**افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي، یان کوبیش راپور**

## ۲۰۱۳ کال د جون ۲۰مه

[په هغه بڼه، چې وړاندې شوی]

***

ښاغلی رئیس او د امنیت شورا محترمو غړو،

موږ په داسې حال کې دلته سره وینو څو دې ته زیاته پاملرنه وکړو او ډاډ ترلاسه کړو چې د افغانستان د دربیو پېچلو او له یو بل سره تړلو لېږدیزو بهیرونو لکه، سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرمختګ په سمه لار روان دی. ټاکل شوې ده چې دغه هڅې په ۲۰۱۴ کال کې وروستۍ پایلې ته ورسېږي، خو بنسټیز کارونه یې باید همدا سږ کال ترسره شي.

د لېږد بهیر اصلي موخه د افغانستان د ملي مالکیت او رهبرۍ پیاوړتیا ده؛ له همدې امله د پرمختګ د بهیر د پرمخ بېولو بار او اساسي مسؤولیت د افغان حکومت او د هېواد مخکښو سیاسي ځواکونو پر غاړه دی. که څه هم، تر ۲۰۱۴ کال پورې او له هغې وروسته پایداره او حقیقي نړیوال ملاتړ ته ښکاره اړتیا ده څو هغه لارې چارې پیاوړې شي چې پر بنسټ یې د افغانستان رهبري لا پیاوړې شي.

ښاغلی رئیس،

لکه څنګه چې د روانې اوونۍ په ترڅ کې اعلان وشو، افغان امنیتي ځواکونو د هېواد په کچه د امنیتي مسؤولیتونو د رهبرۍ د بشپړ پر غاړه اخیستو وروستي پړاو ته داخل شوي دي. خو د حکومت ضد عناصر هڅه کوي چې د امنیتي پرسونل په نښه کولو او د ملکي وګړو په وېروولو سره د دې بهیر مخه ونیسي. د هغوی موخه دا ده چې د خلکو باور پر حکومت او امنیتي ځواکونو کمزوری کړي.

موږ د لوړې کچې او مهمو اهدافو پر وړاندې د مخ پر زیاتېدونکو وحشیانه او پېچلو بریدونو شاهدان یو؛ هغه بریدونه چې د ملکي تلفاتو کچه یې لوړه او د پوځي موخو د ترلاسه کولو کچه یې ټیټه ده، خو بیا هم د رسنیو پراخ پام ځانته رااړوي. د حکومت د ملاتړو کسانو هدفي وژنو کې د ملکي خدمتونو کارکوونکي او د قضایي سکتور غړي هم شامل دي، چې دا چاره د نړیوالو قوانینو او د جګړې له منل شویو اصولو څخه څرګنده سرغړونه ده. په ګڼ نفوسو سیمو او ښاري مرکزونو کې پر عامه ځایونو بریدونه د ملکي وګړو د ژوند پر وړاندې بشپړه بې‌پروایي او بې‌اعتنایي څرګندوي.

افغان امنیتي ځواکونه په مېړانه جګړه کوي او د تلفاتو تر ټولو درونډ بار پر خپلو اوږو وړي او د حکومت ضد ځواکونو د موخو او هڅو د شنډولو په برخه کې له خپلو ځانونو زیاته زړورتیا، ډاډمنتیا او مسلکي وړتیا ښودلې ده.

په ورته وخت کې، افغان امنیتي ځواکونه، په ځانګړي ډول ملي اردو، په بېړنۍ توګه هغو مهمو ملاتړو ظرفیتونو، لکه هوایي وړتیاوو، ته اړتیا لري چې د هغوی د اغېزناکتیا او پایداره فعالیت د ډاډمنولو لپاره حیاتي ارزښت لري. د دغو اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د نړیوالې ټولنې ملاتړ او مرسته اړینه ده.

ښاغلی رئیس،

د واک منظم او مشروع لېږد تر ډېره د لېږد بهیر تر ټولو مهمه برخه ګڼل کېږي، ځکه چې د نورو ټولو هڅو بنسټ او ملاتړ برابروي. ولسمشر کرزي د اساسي قانون له حکمونو سره سم له خپلې دندې څخه د لاس په سر کېدو پر ژمنې بیاځلي ټینګار کړی دی. د ۲۰۱۴ کال د اپرېل د ۵ نېټې ټاکل شویو ټاکنو په درشل کې چمتووالی او سیاسي صف‌بندي د هېواد پر سیاسي فضا حاکم دي.

سره له دې چې زه په ګڼو تخنیکي برخو کې د پرمختګ نښې وینم، د ټاکنو اړوند د دوو مهمو تقنیني سندونو په تصویب کې پرله‌پسې ځنډونه د اندېښنې وړ دي. د دې لپاره چې ټاکنو ته چمتووالی په منظم ډول او پر وخت ترسره شي، اړینه ده چې دغه قوانین د ملي شورا د اوړي له رخصتۍ مخکې توشیح شي. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره اړتیا ده چې ټولې خواوې جوړجاړی وکړي او ښه نیت څرګند کړي، چې د حکومت فعال مشارکت به په دې برخه کې هم د پام وړ مهم رول ولوبوي.

په دې حیاتي او مهمه برخه کې د پرمختګ پرله‌پسې نشتون لا دمخه د ځینو کړیو او اشخاصو په ذهنونو کې دا پوښتنې راولاړې کړې چې آیا رښتیا هم اراده شته چې ټاکنې په خپل وخت او د منلو وړ ډول ترسره شي.

د ټاکنیزو پلټفورمونو او د ولسمشرۍ د احتمالي نوماندانو په تړاو پر یوې پراخې ملي اجماع زیات تمرکز کول مشروع او آن د ستاینې وړ کار دی. خو دا بهیر باید د ټاکنو د چمتووالي په بیه تمام نه شي، او همدارنګه، دا نه شي کېدای او نه باید د باور وړ ټاکنو بدیل وګرځي. د ټولګډونه او رڼو ټاکنو لپاره هېڅ بدیل نشته؛ ځکه همدا ټاکنې د سیاسي لېږد بهیر لپاره د اړین مشروعیت او د ټولو خواوو لپاره د منلو یوه وسیله ده. ټاکنې د نړیوال او کورني مشروعیت د رامنځته کولو بنسټیز محور جوړوي او د دې لامل ګرځي چې نړیواله ټولنه له نوي حکومت سره خپل دوامداره او فوق العاده ملاتړ ته دوام ورکړي.

ښاغلی رئیس،

سوله د افغانانو تر ټولو سره هیله او ارزو ده.

د سولې او پخلاینې د ټینګښت لپاره د افغانستان د سولې عالي شورا او د طالبانو د باصلاحیته استازو ترمنځ د خبرو اترو په موخه په دوحه کې د طالبانو دفتر جوړولو لپاره سیاسي هڅو د روانې اوونۍ په ترڅ کې متضاد پرمختګونه او اعلانونه له ځان سره لرل. موږ هیله لرو چې د طالبانو د دوحې دفتر په تړاو اوسنۍ لانجې او مشروع اندېښنې به ژر هوارې شي او په دې توګه به د سولې عالي شورا او طالبانو ترمنځ د سولې او پخلاینې د مستقیمو خبرو اترو لپاره لاره هواره شي. همدارنګه، موږ هیله من یو چې دا بهیر به د تاوتریخوالي او ملکي تلفاتو له کمېدو سره هم مل وي. یوناما د خپل ماموریت له چوکاټ او له هغه سره په بشپړ سمون کې چمتو ده چې د سولې او پخلاینې له ټولو هڅو ملاتړ وکړي. یوناما چمتو ده د نورو اقداماتو ترڅنګ، د دویمې کچې بین الافغاني خبرو اترو زمینه برابره کړي او همدارنګه له طالبانو سره د بشري حقونو د ودې، د نړیوالو بشردوستانه قوانینو د تطبیق او د ملکي تلفاتو د کمولو اړوند موضوعاتو په اړه تعامل او خبرې اترې وکړي.

د سولې او پخلاینې رامنځته کېدل یو فعال سیمه ایز چاپېریال ته اړتیا لري.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ وروستی وضعیت او بدلونونه، چې د سرمنشي په راپور کې یې هم یادونه شوې، د اندېښنې وړ دي. دا ډول کړکېچونه، په ځانګړې توګه د افغانستان د پرمختګ په دې حساس پړاو کې، خواشینوونکي او خطرناک دي. دغه وضعیت په افغانستان او سیمه کې له مخکې نه موجودې پېچلې او ستونزمنې سیاسي او امنیتي فضا پر وړاندې د خطرونو نوي

عوامل زیاتوي. د دغو اندېښنو، ستونزو او د هغو د اصلي لاملونو حل د دوارو هېوادونو مسؤولیت دی؛ څو د باور فضار رامنځته او له هر هغه اقدام څخه ډډه وکړي چې د تاوتریخوالي د زیاتېدو او د خلکو د احساساتو د پارېدو لامل ګرځي. دا دواړه ګاونډي هېوادونه د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې په برخه کې ګډې اندېښنې او ګډې ګټې لري او دواړه هېوادونه به په ګډه یا بریالي کېږي او یا به له ناکامۍ سره مخ کېږي.

زه د پاکستان له وروستیو ټاکنو وروسته د ولسمشر کرزي او لومړي وزیر نواز شریف ترمنځ د مثبتو خبرو اترو او رغنده اړیکو ته هیله من یم او د افغانستان او پاکستان ترمنځ د لوړې کچې پوځي اړیکو بیا پیل، چې د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک یا آیساف هم پکې ګډون درلود، یو هڅوونکی او مثبت پرمختګ ګڼم.

ښاغلی رئیس،

په کابل کې راتلونکې میاشت یو لوی کنفرانس جوړېږي، چې په کې به یو کال مخکې په توکیو کې د افغانستان د حکومت د اصلاحاتو او د نړیوالې ټولنې د ملکي مرستو په اړه د شوو دوه اړخیزو ژمنو د پلي کېدو پرمختګ وارزول شي. د افغانستان د حکومت او د د نړیوالو شریکانو ترمنځ يې پرېکنده خبرې اترې باید د دې لامل شي چې د راتلونکې کال لپاره یوه تازه او نوې کاري اجنډا رامنځته شي.

د هغو حقیقي او مشخصو عملي کېدونکو ژمنو له ډلې څخه یوازې د اقتصادي پراختیا او ښې حکومتولۍ موضوعات نه دي، بلکې د لېږد بهیر په دې حساس پړاو کې د ټاکنو او بشري حقونو اړوند مسایل هم په کې شامل دي. دغه موضوعات د افغانستان د دولت مهمې او بنسټیزې برخې جوړوي.

د روانې اوونۍ په ترڅ کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون لپاره د نوو کمېشنرانو ګومارنې د دغه بهیر د نړیوالو اصولو او معیارونو سره برابر و او که نه، او آیا د روڼتیا، پراخو مشورو او د خپلواکو او وړ اشخاصو د ټاکلو په اړه د افغانستان د قوانینو اړین شرایط يې پوره کړي دي. دغه اندېښنې اوس مهال په جنیوا کې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر له خوا ارزول کېږي، او وروسته به د بشري حقونو د دغسې ملي بنسټونو د اعتبار ورکولو اړوند نړیوالې مرجع له خوا هم وڅېړل شي. په ورته مهال کې به د کمېسیون فعالیتونه تر پخوا ډېر د څېړنې او ارزونې لاندې وي.

د افغان ښځو او نجونو د حقونو ساتنه او ودې لپاره د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون پلي کول، او همدارنګه د تېرې یوې لسیزې په اوږدو کې د هغوی د ترلاسه کړو لاسته راوړنو خوندي کول، یو بل اساسي مکلفیت دی.

د افغانستان اساسي قانون په اقتصادي، سیاسي او عامه ژوند کې د ښځو مساوي او مانداره ګډون ډاډمن کړی دی، او په نړیواله کچه هم دا اصل د ټولنیز پرمختګ د پیاوړتیا لپاره یو بنسټیز عنصر ګڼل کېږي، چې د ماشومانو د روغتیا او هوساینې، چې د هر ملت راتلونکی جوړوي، په ښه والي کې مهم رول لري. مهم نړیوال تمویلوونکي په څرګند ډول ټینګار کوي چې له دغو ژمنو څخه هر ډول شاتګ، چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون او د یاد قانون د پلي کېدو بهیر کمزوري کېدل هم په کې شامل دي، به پر راتلونکو نړیوالو مرستو مستقیمې او منفي اغېزې وشیندي.

ښاغلی رئیس،

د افغانستان لا له وړاندې خورا ټیټ بشردوستانه شاخصونه د بشردوستانه فعالیتونو فضا د محدودېدو له امله له لا زیات خطر سره مخ شوي دي. خو یوازې بشردوستانه مرستې او غبرګون د اړتیاوو د پوره کولو لپاره بسنه نه کوي؛ بلکې دایمي حل‌لارو

او د حکومت د ظرفیت لوړولو ته باید لا ډېره پاملرنه وشي او لومړیتوب ورکړل شي. په دې برخه کې د پېښو پر وړاندې د مبارزې پر سیستمونو، کورنیو بې‌ځایه شویو او کډوالو، د هغوی پر بشپړ داوطلبانه ستنېدو او دوامدارو عایداتي فرصتونو، او همدارنګه روغتیایي سیستم ته د لاسرسي او د هغې د ښه کیفیت پر ساتنې او پیاوړتیا باندې د پراختیایي تمرکز زیاتوالی شامل دی.

ښاغلی رئیس،

دا خورا مهم او حساس وخت دی. دا مسیر نه بدلېدونکی دی، خو اړتیا ده چې د افغانستان چارواکي، د افغانستان خلک او نړیوال شریکان په ګډه کار وکړو څو ډاډ ترلاسه شي چې دا بهیر پایداره او دوام ومومي.

مثبتې پایلې هم شته چې باید یادونه یې وشي، خو شاتګونه او خنډونه هم شته چې د مخنیوي وړ نه دي او نه یې هم په راتلونکي کې مخه نیول کېدای شي.

په کار ده چې ریښتینې و اوسو او یو پر بل باور ولرو. د دې لپاره چې ثابته شي د تر ټولو بدو احتمالي سناریوګانو په اړه زموږ اندېښنې ناسمې دي، د هېواد دننه او بهر ټینګو او دوامدارو هڅو ته اړتیا ده. دا کار که څه هم له ننګونو ډک دی، خو ناشونی نه دی.

له پاملرنې مو مننه!